Pushto

# خارنوال ته شکایت کول

COMMONWEALTH OMBUDSMAN

دکامنولتې څارنوال (Ombudsman) د استراليا د دولتي ادارو او د خصوصي سکتور مؤسسو د اداري کارونو په هکله د شکايتونوپلټنه کوي.

## څارنوال څرنګه تاسې سره مرسته کوي

که تاسې فکرکوۍ چې تاسې سره غيرعادلانه چلن شوی. تاسې د څارنوال دفترته شکايت کولی شئ.

مونږ د هغه رنګ شکايتونه چې پلټنه يې کوو په لاندي ډول دي:

> **کمپني ګانې**–چې د خدمتونو، لکه عامه هوساينه او کوچنيانو سره مالي مرسته، د فدرالي دولت روغتيا او ټرنسپورټ، مسؤليت لري.

> **خــدمــتونــه**–چې ډيری يې د خصوصي سکتور قرارداد کوونکو لخوا د استراليا دولت لپاره وړاندي کيږي.

> **دمالوماتوازادي (FOI)**–دمالوماتوغوښتنليکونه چې په اجراأتوکې يې ځنډ راځي هم شامل دي.

> **د استراليا فدرالي پوليس (AFP)**–د استراليا د فدرالي پوليسو دغړيو کړنې او هم د يوې ادارې په څير دهغوۍ دپاليسيو، اجراأتو او طرزالعملونو په هکله.

> **د پوستې کاروبار**–د استراليا پوسته او د خصوصي سکتور پوستي کارکوونکي چې د څارنوال پوستي کاروبار (PIO) سره راجسټرشوي.

> **شخصي روغتيايي بيمه**–د روغتيايي وجوه غړي، روغتيايي وجه، خصوصي روغتونونه يا طبي کارکوونکي. شکايتونه بايد د روغتيايي بيمي بندوبست په هکله وي.

> **بهرني زده کوونکي**–ستونزې چې احتمالي، اوسني او پخواني زده کوونکي يې خصوصي ښوونځيو، کاليجونو او پوهنتونو سره لري.

> **داستراليا پلازمينه ساحه (ACT)**–داستراليا دمرکزي حکومت اداري کړنې.

## څرنګه کولی شئ شکایت وکړئ

د ستونزې د حل لپاره، لمړی د ادارې د ستونزو د حلولو څانګې سره اړیکه ونیسئ. که چیرې تاسې دهغوی په ځواب قانع نه شوی، مونږ سره اړیکه کې شئ.

## کله چې تاسې مونږ ته شکایت راوړی څه به وشي؟

مونږ به ستاسې پر شکایت په چټکۍ او احتیاط سره غور وکړو. کیدای شي مونږ له تاسې لانور مالومات، لکه لیکونه یا نور اسناد، وغواړو،یا له تاسې وغواړو چې خپل شکایت مونږ ته په لیکنې بڼه راکړئ.

## مونږ سره اړیکه ونیسئ

### د تلفون له لیارې

د دوشـــنبـې نه تر جـمـعـې پــوري د سـهار له 9 بـجو څخه د ما ښام تر 5 بجوپوري (AEDT) **1300 362 072** شمیرې ته زنګ ووهئ.

### Online

بریښنا لیک: **www.ombudsman.gov.au**

### په لیکنې بڼه:

GPO Box 442, Canberra ACT 2601

## تاسې سره په شکایت کولوکې دمرستې لپاره خدمتونه شته

که ستاسې ژبه انګلیسي نه وي، مونږ تاسې سره په **131 450** شمیره دشفاهي او لیکنې ژباړې (TIS) له لیارې مرسته کولی شو. که تاسې داوریدلو، لیدلو یا خبروکولو څخه معیوب یاست، د TTY خدمتونه دملي مخابراتي دستګاه له لیارې شتون لري چې شمیره یې **133 677** ده.

## د امبـوډسـمـن خـدمـتـونـه وړیــا دي